اسکول دَ ماشومانو دَ پاره لیکلې شوې

مشهورې ملّې نغمې

# پښتو

# ملّی نغمي

Ketabton.com

لیکوال

مولانا احمدعلی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مونږ دَ خپل فوج ملګری یُو .... نظم

لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی

عــظیــم الشـــان دے قـــدردان دے ډیـــر عـــزت والا
دَ پـــاك وطـــن دَ خپـــلـــې خـــاورې حــفــاظـــت والا

اغیـاریـریـږی پـه خپـل مـرګ بانـدې چې دوی تـه ګوری
نـهٔ شـی راتـلـے لـه دښـمـنـانـو نـه د دوی پـه لُـوری
ورتـــه مـعـلــومـــه ده دا خـلـق دی هـمـت والا
دَ پـــاك وطـــن دَ خپـــلـــې خـــاورې حــفــاظـــت والا

پــه دښـمـنـانـو بـانـدې هـر کـلـه حملـه چې کوی
لـــه مـــرګ نـــهٔ یـریـږی ، دوی مـدام غــزا چې کـوی
هـریـوفـوجـی ، سپـاهـی دے دغـســې صـفـت والا
دَ پـــاك وطـــن دَ خپـــلـــې خـــاورې حــفــاظـــت والا

ډیـوټـی پـه شـوق سره کـوی ، پـه ځـنګـلـونـو کښې دوی
پـه شـوق سـره ډیـوټـی کـوی مـدام پـه غـرونـو کښې دوی
اُوچتـــوُنـــکـــی هـــر تـــکـلیف لـــه مشـقـــت والا
دَ پـــاك وطـــن دَ خپـــلـــې خـــاورې حــفــاظـــت والا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی چې دلته مخالف وی ، دوست زما به نهٔ وی
ورسره زړهٔ کښې دَ وطن مینه وفا به نهٔ وی
هریو فوجی زما دَ سر سیورې دے چهت والا
دَ پاك وطن دَ خپلې خاورې حفاظت والا
د دوی عظمت ته دَ احمدعلی سلام دلته کښې
د دوی همّت ته دَ احمدعلی سلام دلته کښې
شوق دَ جهاد لرونکے ډله هرساعت والا
دَ پاك وطن دَ خپلې خاورې حفاظت والا


# لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه محمدیوسف بنوریؒ ټاون کراچی)

ایس پی ایس ټی ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبر کالونی مردان

خیبر پختونخوا پاکستان

0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چوده اګست .... پښتو نظم

ليکوال: مولانا احمدعلی مردانی

چـــوده اګســـــت دَ خـــوشـحـــالــــې ورځ ده
زمـــــــونــــــــږ دَ قــــــوم دَ آزادې ورځ ده

دَ انـــګـــريـــزانـــو ســـلـــطـــنـــت لاړو
تـخـت لــــه هـغـوی نـــه حـکـومـت لاړو
دَ حـــکـــومـــت دَ تبـــديــلـــی ورځ ده
زمـــــــونــــــــږ دَ قــــــوم دَ آزادې ورځ ده

اغيــــارو پـــريښـــودو وطـــن زمـــونــــږه
اغيــــارو پـــريښـــودو چـــمـــن زمـــونــــږه
دا لــــــه اغيـــــار نــــــه دَ خـلاصـــې ورځ ده
زمـــــــونــــــــږ دَ قــــــوم دَ آزادې ورځ ده

ډيـــر پــــه تـکـليف مـونـږ دا وطن ګټلے
پــــه قـــربـــانـو مـــونــــږ دا چـــمـــن ګټلے
لـيــکـــی تــــاريـــخ دَ قـــربـــانــې ورځ ده
زمـــــــونــــــــږ دَ قــــــوم دَ آزادې ورځ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وا ړه اولـوئې تـمـام خـوشحالـه ګرځي
خـوّاص سـره عـوام خـوشـحـالـه ګرځي
دَ اتـــفـــاق دَ وروروري ورځ ده
زمــــونــــږ دَ قـــوم دَ آزادۍ ورځ ده
نـعـمـت عـظـيـم پـه نـعـمـتـونـو کښې دا
احـمـد يـادوم پـه مـحـفـلـونـو کښې دا
دَ مـســلــمـــان دَ کــامـيـــابـۍ ورځ ده
زمــــونــــږ دَ قـــوم دَ آزادۍ ورځ ده

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی
(فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه محمديوسف بنوريؒ ټاون کراچی)
ایس پی ایس ټی ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبر کالونی مردان
خیبر پختونخوا پاکستان

0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملّی ترانه ....... پښتو

لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی

پټه خزانه ته ئې دَ لعلونو دَ مرجان ئې
ښکلې دې نامه ده، اے وطنه! عالیشان ئې
ستا په ټول وجود کښې راحتونه دَ جهان دی
ښۀ اعلا اعلا ډیر نعمتونه دَ جهان دی
تاسره ترلې ډیر یادونه دَ جهان دی
هُم مسکن زما دَ قبیلې دَ خاندان ئې
ښکلې دې نامه ده، اے وطنه! عالیشان ئې
سنده دے که پنجاب دے یا صوبه کۀ پختونخوا ده
بلوچستان برخه ستا دتن ښکلې اعلا ده
جمع تاسره دَ ټول جهان حُسن ښکلا ده
بنده یو قلعه دَ حفاظت دَ هر انسان ئې
ښکلې دې نامه ده، اے وطنه! عالیشان ئې
ښکلې چمنونه او باغونه دې په تن دی
تانه جاری شوې چینې ټولې دَ امن دی
ستا دَ حفاظت دَ پاره خلق ولاړ نن دی
ښکلې په تصویر سره پوره تمام عیان ئې
ښکلې دې نامه ده، اے وطنه! عالیشان ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاباندي ساکن ډير قدرمنده عالمان دي
تاسره په زمکه ښکلي ښکلي مشران دي
تاسره مخلصه خلق ډير ددي جهان دي
سيور مے دَ چهت بره تۀ په مونږه دَ آسمان ئې
ښکلي دې نامه ده ، اے وطنه ! عاليشان ئې
ستا فضا تمامه خوشبوداره دَ جهان ده
ستا فضا تمامه دَ سکون او دَ امان ده
ستا هريو خبره ښۀ عالا ددې جهان ده
سَم پوره پوره په وجود ښکلي گلستان ئې
ښکلي دې نامه ده ، اے وطنه ! عاليشان ئې
شين څادر لري پوره دَ حُسن په هر لور تۀ
مينه ورکوے هريو بشر لره دَ مُور تۀ
تا ده ترقي کړے ، ځے بره بره نور تۀ
داسې وطنونو کښې په مخکښې تۀ روان ئې
ښکلي دې نامه ده ، اے وطنه ! عاليشان ئې
خلق درسره تهول اُوسيدونکي وفادار دي
تهول دَ اُخوَت دَ محبت په سَمه لار دي
ستا دفاع ته هرساعت مدام پوره تيار دي
تل زمونږ دَ زړونو پوره پوره اطمينان ئې
ښکلي دې نامه ده ، اے وطنه ! عاليشان ئيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیارو منلے ستا قُوَت دے په هر لور
اغیارو منلے ستا قُوَت په هریو لور دے
ستا دَ هر دښمن په هر محاذ باندې مخ تُور دے
ستا په ترقی سره په دوی باندې بل اُور دے
ایمتهی طاقت منلې شوې په جهان ئې
ښکلې دې نامه ده ، اے وطنه ! عالیشان ئې
ستا په ترقی باندې ، احمد زهٔ خوشحالیږم
ستا په تعریفونو باندې کله زهٔ مړیږم
تاسره به ستا دفاع ته هر خواته اُودریږم
تهٔ زمونږ دَ ټولو په شریکه یَو جانان ئې
ښکلې دې نامه ده ، اے وطنه ! عالیشان ئې


## لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه محمدیوسف بنوریؒ ټاون کراچی)

ایس پی ایس ټی ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبر کالونی مردان

خیبر پختونخوا پاکستان

0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملّی ترانه ....پښتو

لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی

ښکلې حسین زما وطن دے
اعلا وطن دے، بالا وطن دے
دا دے عظیم له هر وطن نه
ښکلې حسین له هر چمن نه
له نفرتونو صفا وطن دے
ښکلې حسین زما وطن دے
کور د لعلونو سَم په جهان دے
کور دَ ګلونو، کور دَ امان دے
دَ مؤمنانو کور دا وطن دے
ښکلې حسین زما وطن دے
مشك وعنبر ئې خاوره تمامه
در معطّر ئې خاوره تمامه
په هر صفت جُدا وطن دے
ښکلې حسین زما وطن دے
دلته کښې دنګ دنګ حسین غرونه
دلته کښې دشتے غټ میدانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ دَ تولو دا ستا وطن دے
ښکلي حسين زما وطن دے
ګرم دے يخ دے، دريم پسرلي شته
بل يَو خزان موسم په کښي شته
دلدار زما دا سدا وطن دے
ښکلي حسين زما وطن دے
جاري دَ علم دلته چيني دی
ډکي سکون نه ورځي او شپي دی
دَ انقلاب صدا وطن دے
ښکلي حسين زما وطن دے
احمد په جار وائی مدام
هر چا ته دلته نصيب آرام
شفا شفا دا دوا وطن دے
ښکلي حسين زما وطن دے


## ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه محمديوسف بنوریؒ ټاون کراچی)

ايس پی ايس ټی ګورنمنټ پرائمری اسکول ليبر کالونی مردان

خيبر پختونخوا پاکستان

0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملّی ترانه ........پښتو

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

منظر دَ هر حصې دے ستا وطنه ! جانانه
دَ لوئې مقام گواه ده ستا دَ شان زمانه
یکتائې په وجود سره وطنه ! تهول تمام
شیدا دی تهول په تا باندې خوّاص تمام عوام
هر څوك قربانیږی اے وطنه ! لتانه
منظر دَ هر حصې دے ستا وطنه ! جانانه
ولاړ دی ستا دفاع ته ډیر بیشمیره علماء
ولاړ دی ستا دفاع ته ډیر بیشمیره اولیاء
هریو دې ستا دَ حُسن دَ بقا ښۀ دیوانه
منظر دَ هر حصې دے ستا وطنه ! جانانه
اثر ته دَ خیالاتو دَ اقبال دَ سوچونو
یو پته خزانه ئې په جهان دَ لعلونو
دَ اَمن دَ سکون ئې ښۀ اعلا ته نښانه
منظر دَ هر حصې دے ستا وطنه ! جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قـلـعـــه پـوره يــو بـنـده دَ كـمـــال ستـــا وجــود
عـظـيـم لـوئــي نـعـمــت دَ ذوالـجـلال ستـــا وجـود
غـــرځـــولـــے دَ اغيـــار تـــا ده هـــره بُتـــخـــانـــه
مـنـظـــر دَ هـــرحـصـي دے ستـــا وطـنـــه ! جـانـانـــه

نهـــرونـــه ، ځـنـګـلـونـه ستـــا دَ حُـسـن يـو حـصـه
اُوچـت اُوچـت دنګ غـرونـه ستـا دَ حسـن يـو حـصـه
اعـــلا لـــرے پـــه تـــن وُجـــود دَ عـدل پيـمـــانـــه
مـنـظـــر دَ هـــرحـصـي دے ستـــا وطـنـــه ! جـانـانـــه

احـمـدعـلـى پـه شوق سره ستـائيـلـے ستـا هـردار
ستـــا ئيـلـي ستـــا دَ تـــن هـغـه هـركـلي هـريـو بنـار
دَ عـــزم لـــه هـمّــت نـــه ډكــه ستـــا ده تـــرانـــه
مـنـظـــر دَ هـــرحـصـي دے ستـــا وطـنـــه ! جـانـانـــه

## ليكوال : مولانا احمدعلى مردانى

(فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه محمديوسف بنوريؒ ٹاون كراچى)
ايس پى ايس ٹى گورنمنٹ پرائمرى اسكول ليبر كالونى مردان
خيبر پختونخوا پاكستان
0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملّی ترانه ( ملّی نغمه) .....پښتو

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

وطنه! دَ لعلونو تهٔ ئې پټه خزانه
حسینه ده تمامه ستا دَ حُسن ترانه

د ډیرو دَ خوبونو په دُنیا کښې ئې تعبیر
دَ حُسن ښهٔ پوره پوره کامل ښکلې تصویر
ښهٔ ډکه ده له مینې نه پوره دې پیمانه
وطنه! دَ لعلونو تهٔ ئې پټه خزانه

رحمت دَ ذوالجلال دے ستا وجود پوره تمام
ذرّه ذرّه کښې پټ لرے سکون په هر مقام
ستا زمکه خاوره ټوله په دُنیا ده ودانه
وطنه! دَ لعلونو تهٔ ئې پټه خزانه

اغیارو، کفارو له ستا صورت جلّاد
ډیر کلک ښهٔ مضبوط ایخې مشرانو ستا بُنیاد
مدام دَ ترقی په لاره تهٔ ئې روانه
وطنه! دَ لعلونو تهٔ ئې پټه خزانه

پوره پوره نقشه ئې دَ سوچونو دَ اقبال
حسینه گلدسته ئې پوره پوره دَ جمال
خوریږی خوشبوئی دُنیا کښې دلته لتانه
وطنه! دَ لعلونو تهٔ ئې پټه خزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحفه ته د مولا غني سبحان لويه اعلا
نعمت له نعمتونو عاليشان پوره بالا
هريو ذره دې ښکلي، قيمتي هره دانه
وطنه! د لعلونو ته ئي پټه خزانه

جوړ کړي تا دفاع د پاره ځان له ايتم بم
له چا نه وطنونو کښې طاقت کښې نه ئي کم
حمله کوے چې کله، بيا صحيح وی نشانه
وطنه! د لعلونو ته ئي پټه خزانه

په غرونو کښې لرے د نعمتونو ذخيره
اغيارو ته ښودلي د جنګ تا ده طريقه
ګواه دا مخلوقات دی د عظمت دې زمانه
وطنه! د لعلونو ته ئي پټه خزانه

په سر باندې ستا سيوري د راحت لرم مدام
شکر دې اے مولا! چې د اغيار نه يم غلام
مدّاح دې زهٔ احمد يم، ستا پوره يم ديوانه
وطنه! د لعلونو ته ئي پټه خزانه

ژوندون ستا خاوره کښې د هرچا شاهانه
وطنه! د لعلونو ته ئي پټه خزانه

ليکوال: مولانا احمدعلی مردانی
(فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه محمديوسف بنوریؒ ټاون کراچی)
ايس ايس ټي ګورنمنټ پرائمري سکول ليبر کالوني مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملّی ترانه( ملّی نغمه)

لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی

عظیم نعمت ښکلې تحفه دَ ربّ خبیر پاکستان
یو دَ جنّت سمه ټکړه ، حسین تصویر پاکستان
ګواه په دې خبره دے تمام خِلقت ددې دُنیا
لری تاریخ دَ قربانو دا حقیقت ددې دُنیا
ځکه په هر مقام ده نن نامه تحریر پاکستان
عظیم نعمت ښکلې تحفه دَ ربّ خبیر پاکستان
په محنتونو دلته کښې دَ مشرانو په کوشش
په قربانو اخستې مونږ دَ عالمانو په کوشش
ګټلې له انګریزانو غریب امیر پاکستان
عظیم نعمت ښکلې تحفه دَ ربّ خبیر پاکستان
زمکه ددې خوږه خوږه ، هره سیمه هره حصه
وینا لری درنه درنه ، لری درنه خوږه نامه
په زمکه ، خاوره کښې اعلیٰ لری تاثیر پاکستان
عظیم نعمت ښکلې تحفه دَ ربّ خبیر پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــری دُنیـا کښـــې هــر مــوسم ، تهولــه دُنیا ددې ګواه
لـــری طـــاقـــت دَ ایټم بـم ، تهـولـــه دُنیـــا ددې ګـواه
پـــه هــر صـفــت پـوره تـمــام ، بـدرمنیـر پـاکستـان
عـظیـم نـعـمت ښـکلې تـحـفـه دَربّ خبیـر پـاکستـان
سبـق دَ مـحبـت دلتـــه پـــه هـرطـرف دے پـــه هـرلـور
سبـــق دَ اُخـــوّت دلتــــه حُســن ښُـکــلا جـوړه دَ کـور
بیـدار ســاتـلـے پـــه دُنیـــا هــریـو ضمیـر پـاکستـان
عـظیـم نـعـمت ښـکلې تـحـفـه دَربّ خبیـر پـاکستـان
پـه سیلابـونـو کښـې مـونـږه دَ یوبل دلتـه کښې غمخوار
پـــه طـوفـانــو کښــې مــونــږه ملـګـری یُـو دَ یـوې لار
نـــه یُـو مـحتـاجـه اغیـار تــه ، نـهٔ دې فـقیـر پـاکستـان
عـظیـم نـعـمت ښـکلې تـحـفـه دَربّ خبیـر پـاکستـان
پــه تـن لـری حسیــن خـادر دَ ځـنـګـلـونـو دلتـه کښې
یــو سـلسلـــه پـه تـن لـری دَ دنـګـو غـرونـو دلتـه کښې
لـــه هــر دښــمــن نـــه پـه اَمـن ښـهٔ پـه تـدبیـر پـاکستـان
عـظیـم نـعـمت ښـکلې تـحـفـه دَربّ خبیـر پـاکستـان
دَربّ فــضـــل وکـــرم ســـره آبــاد بـــه وی آبــاد بـــه وی
دَربّ فــضـــل وکـــرم ســـره آزاد بـــه وی آزاد بـــه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره پوره دے دَ اقبال دَ خوب تعبیر پاکستان
عظیم نعمت ښکلې تحفه دَ ربّ خبیر پاکستان

یو ګلدسته دَ اتحاد ، مدام به وی مدام به وی
مضبوط لری قوی بُنیاد ، مدام به وی مدام به وی

نهٔ کمزورې په طاقت ، نهٔ دے حقیر پاکستان
عظیم نعمت ښکلې تحفه دَ ربّ خبیر پاکستان

ښکلې نامه ، ښکلې نقشه ، مدام به وی مدام به وی
لښکر دفاع لرې ددې ، خواص به وی عوام به وی

دَ اتحاد ، دَ امن دے وطن سفیر پاکستان
عظیم نعمت ښکلې تحفه دَ ربّ خبیر پاکستان

دَ زړهٔ تسکین دَ زړهٔ راحت مدام دلته مدام دلته
په هر محل احمده ! تل ، آرام دلته ، آرام دلته

ښکاره اغیار دَ پاره بیل جُدا لکیر پاکستان
عظیم نعمت ښکلې تحفه دَ ربّ خبیر پاکستان

## لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه محمدیوسف بنوریؒ ټاون کراچی)

ایس پی ایس تی ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبر کالونی مردان خیبر پختونخوا پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملّی ترانه( ملّی نغمه)

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

زما دلبر دے زما ځان

پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان

حسین منظر ، ښکلې مکان

پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان

په کښې اسباب دَ کامیابې

دَ محشر ځائې دَ تیارې

اعلیٰ مقام دَ بندګې

مقام دا ځائې دَ غمخوارې

پوره آرزو زما ارمان

پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان

عظیم دولت دَ ربّ احسان

پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان

چمن حسین پوره تمام

خوشبو خوشبو سحرماښام

پرته خوشبو په هر مقام

په کښې هرخوا پوره آرام

نعمت عظیم ګلستان

پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان

لری اعلا ښکلې دوران

پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سَمه ټکړه يَو دَ جنَت
سيورې تمام دے دَ راحت
قائم تمام دے په وحدت
وجود تمام دے محبت
راته له هر څۀ نه ډير ګران
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
عطا اعلا دَ پاك سبحان
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
په دنګو غرونو ښکلې دے
په ځنګلونو ښکلې دے
په دريابونو ښکلې دے
په موسمونو ښکلې دے
لرى اسباب دَ اطمينان
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
وطن اعلا په ټول جهان
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
قلعه دَ امن دَ سکون
په کښې حسين تمام ژوندون
لرى اعلا تمام مضمون
نۀ به شى بل ته سر نګون
په ايټم بم قوى عيان
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
دَ حق آواز ، دَ حق آذان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
په خپلو خلقو دے آباد
وطن اعلا زمونږ آزاد
مضبوط لری پوره بُنیاد
نۀ غواړی شر او نۀ فساد
داعی دے دَ امن امان
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
لری اعلا نام و نشان
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
لری ښُکلا په هر حصه
دا دَ دُنیا په هر حصه
وطن خیر خوا په هرحصه
غواړی وفا په هر حصه
برخه لری ضلع مردان
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان
دَ احمد حق تمام بیان
پاکستان پاکستان پاکستان پاکستان


# لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه محمدیوسف بنوریؒ ټاون کراچی)

ایس پی ایس ټی ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبر کالونی مردان خیبر پختونخوا پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملّی ترانه( ملّی نغمه)

لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی 0312-9818511

زما محبوب ،زما جانان . پاکستان پاکستان
حسین تصویر، حسین مکان . پاکستان پاکستان
لری دَژوند مزه او خوند
وجود تمام ښهٔ سر بلند
وطن اُوچت دے قدرمند
په شیطانانو دا در بند
عظیم دولت، دَربّ احسان ، پاکستان پاکستان
حسین تصویر، حسین مکان . پاکستان پاکستان
لری رڼا په هر طرف
حُسن ښکلا په هر طرف
وفا وفا په هر طرف
مکان صفا په هر طرف
زما گفتار، زما بیان . پاکستان پاکستان
حسین تصویر، حسین مکان . پاکستان پاکستان
په سنده هرخواته خوشحالي
بلوچستان در دے عالي
دَپنجاب ژوند دے مثالي
دَ پښتونخوا در کمالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصویر اعلیٰ دَ ټول جهان . پاکستان پاکستان
حسین تصویر ، حسین مکان . پاکستان پاکستان
تصویر دَ مینې دَ الفت
سیورې په سر دے دَ رحمت
سَمه ټکره ده دَ جنت
عظیم دَ پاك اللّٰه نعمت
تصویر تمام دَ اطمینان ، پاکستان پاکستان
حسین تصویر ، حسین مکان . پاکستان پاکستان
لری سکون په هر قدم
په تن څادر لری شین سَم
وطن قوی په ایتم بم
نۀ دے وطن له چانه کم
امان امان دے امان . پاکستان پاکستان
حسین تصویر ، حسین مکان . پاکستان پاکستان
زما مسکن د دې دُنیا
کوی احمد حقه وینا
حسین چمن اُوچت بالا
لری احمد حقه وینا
دستور اعلیٰ لری قرأن . پاکستان پاکستان
حسین تصویر ، حسین مکان . پاکستان پاکستان

لیکوال
مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة بنوری
ټاون کراچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظم ..........بُنۡیَان مَرۡصُوۡص

لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی

اغیار له دے سَمۡ طوفان، بُنۡیَان مَرۡصُوۡص
اتحاد قوت ایمان ، بُنۡیَان مَرصُوۡص
اپریشن په بنهٔ صورت
دالری تهول حقیقت
اپریشن په بنهٔ صفت
وسیله دَ حفاظت
تیار ورته هریو ځوان ، بُنۡیَان مَرۡصُوۡص
دَ باطل خلاف اعلان، بُنۡیَان مَرۡصُوۡص
هر ادا زمونږ جُدا
هرطرف ته په دُنیا
هر ادا زمونږ اعلا
هر طرف ته په دُنیا
تل دفاع دَ مسلمان ، بُنۡیان مرصوص
تل دفاع دَ پاکستان ، بُنۡیَان مَرۡصُوۡص
موتی متحد یُو تهول
تهول پوره کامل په تول
کار زمونږ،سر ته رَسوول
له تکلیف نه بل بچ کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم دَ ګټې ښهٔ عیان ، بُنُیَان مَرْصُوْص
ګټه تل دَ هر میدان ، بُنُیَان مرصوص
ورسره دُښمن خفه
دَ اغیار هر تن خفه
بیا به وی ،هم نن خفه
تول په اپریشن خفه
دَ حق ښهٔ ښکاره اذان ، بُنُیَان مَرْصُوْص
زمونږه دَ تولو شان ، بُنُیَان مَرْصُوص
احمده! نامه اعلا
بیله له نامو جُدا
نوم دے دغیرت صفا
بیله له نامو جُدا
نوم تکې دے دَ قرآن ، بُنُیَان مَرْصُوْص
په اغیارو تل خفګان ، بُنُیَان مَرْصُوْص


# لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

ایس پی ایس تی ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبر کالونی مردان

خیبر پختونخوا پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بُنْیَانٌ مَّرصُوص .....پښتو نظم

میدان کښلي مونږ دے بُنْیَانٌ مَّرصُوص جنګ
په خپلو کړے مونږه پوره پوره دے ننګ
دفاع ته یُو تیار، دَ خپل وطن مدام
دفاع ته یُو تیار، سحروی کۀ ماښام
دفاع ته یُو تیار، دَ ددې وطن عوام
جواب به ورکوو مونږ دَ سنګ سره په سنګ
میدان کښلي مونږ دے بُنْیَانٌ مَّرصُوص جنګ
ایمان زمونږ قوّت دے، خبر دې وی هرڅوك
وجود زمونږ غیرت دے ، خبر دې وی هرڅوك
وحدت مو علامت دے، خبر دې وی هرڅوك
دَ تورو دنیزو، زمونږه خوښ دے شړنګ
میدان کښلي مونږ دے بُنْیَانٌ مَّرصُوص جنګ
دَیَو اللّٰه تمام ، ټول مونږ یُو بندیګان
اغیار لره دَ خوف آواز زمونږ آذان
اغیار باندې یُو مونږه سَم تندر دَ آسمان
کردار زمونږ اُوچت دے دَ غر په شان ښۀ دنګ
میدان کښلي مونږ دے بُنْیَانٌ مَّرصُوص جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ زمونږ حسین دے دَ حال او استقبال
تدبیر زمونږ حسین دے کمال دے تہول کمال
تصویر زمونږ حسین دے دُنیا کښې لا مثال
اعلا حسین دَ تہولو دَ هریو ادا رنګ
میدان ګتہلي مونږ دے بُنیَانٌ مَّرصُوص جنګ

اوچته حوصله ده زمونږه تل دَ باز
غوځولی دَ رافیل مونږه دَ یورپ جاز
مونږه دي خاموش کړي دَ هر دښمن آواز
زمونږه حوصلي به دُنیا کښې نهٔ شي زنګ
میدان ګتہلي مونږ دے بُنیَانٌ مَّرصُوص جنګ

ګفتار سره اعلا یُو، کردار سره اُوچت
سَم ډهال یُو دَ خپل قوم دَ ملك دَ حفاظت
منلي دا احمده ! دښمن تہول حقیقت
جهان به په دښمن کړو مونږه په جمع تنګ
میدان ګتہلي مونږ دے بُنیَانٌ مَّرصُوص جنګ


## لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

ایس پی ایس تی ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبر کالونی مردان

خیبر پختونخوا پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پشتو نظم ...... لیکوال : احمدعلی مردانی

# بابت ۵ اګست یوم استحصال کشمیر

مونږ دَ کشمیر دَ خپلو رونړو استحصال نهٔ منو
جبر او ظلم په دُنیا دَ هر دجّال نهٔ منو
هغه قومونه چې دعوىٰ کړی دَ انصاف ، چرته دی؟
هغه ملکونه چې دعوىٰ کړی دَ انصاف ، چرته دی؟
د دوی اخلاص نه منو مونږ،داسې جنجال نهٔ منو
جبر او ظلم فیصلې دَ هر دجّال نهٔ منو
چرته چې ګورے متحد دې دَ اسلام خلاف ټول
کفر ته ګوره متحد به وی مدام خلاف ټول
د دوی یاری نهٔ منو، حُکم بد اعمال نهٔ منو
جبر او ظلم فیصلې دَ هر دجّال نهٔ منو
پکار وو دوی له چې مظلوم سره مدام ولاړ وے
دَ هر ظالم خلاف یَو موټې ټول تمام ولاړ وے
منافقت نه منو ، غلط سوچ او خیال نه منو
جبر او ظلم فیصلې دَ هر دجّال نهٔ منو
احمده ! حق لیکلې تادې خو ړاندهٔ دی تمام
ښکاره واضحه تالیکلې دے پوره دا کلام
وروستو په دې څهٔ اعتراض دَ چا اشکال نهٔ منو
جبر او ظلم فیصلې دَ هر دجّال نهٔ منو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو نظم

# اپریشن بُنیَانٌ مَّرصُوص

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی
(ایس پی ایس تی گورنمنټ پرائمری اسکول لیبرکالونی مردان خیبرپختونخوا)

رُسوا شول تمام دَ زمانې خلق منحوس
شورو اپریشن چې شولو بُنیَانٌ مَّرصُوص
وخت وو دَ سحر چې ابتدا ددې کیدله
دا نظاره ټوله دې دُنیا پوره لیدله
خلقو ځان قربان کړۀ له وطن خاورې ناموس
رُسوا شول تمام دَ زمانې خلق منحوس
جنګ دَ مزائیلو لویو لویو په دُنیا
غوری ، شاهین اولیدلو خلقو بنۀ بالا
رُسوائی انجام دے دَ هندو سرې مجوس
رُسوا شول تمام دَ زمانې خلق منحوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـره ګـرځـيـدل بـه جهـازونـه پـه آسمـان کښـې
هرخـوا تـه ژړا وه ، غـم فـرياد پـه هندوستا ن کښې

رُسـوائـي انـجـام دے پـه دُنيـا دَ هـر ديّـوس
رُسـوا شـول تـمـام دَ زمـانـې خـلـق منـحـوس

رافيـل راګـوزار شـولـو پـه زمـکـه د دښـمـن
اُونيـولـه اَمـن تـه دښـمـن خپـلـه لـمـن

دَ مـودی انـجـام دے دا انـجـام دَ دقيـانـوس
رُسـوا شـول تـمـام دَ زمـانـې خـلـق منـحـوس

لانـدې بـره هـرطـرف تـه بَـل وو دَ جـنـګ اُور
احـمـده ! هـنـدوانـو استـعـمـال کـړلـو خپـل زُور

رُسـوا ورسـره شـولـو پټ پټ وطـن دوسـت رُوس
رُسـوا شـول تـمـام دَ زمـانـې خـلـق منـحـوس

## ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

ايس پی ايس تی ګورنمنټ پرائمری اسکول ليبر کالونی مردان
خيبر پختونخوا پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بُنیَان مَرصُوص .......نظم

حسین چمونونو کښې اعلا چمن
وطن دا وطن دا وطن
ددې هریو سیمه کښې حُسن وفا
ددې هریو سیمه کښې جوړه ښُکلا
دَ علم چینې دلته جوړه رڼا
دَ ربّ ده زماډیره لویه عطا
نخه دَ سکون دا ، نخه دَ امن
وطن دا وطن دا وطن
دفاع ته ددې مونږه ټول یُو ولاړ
کړې دی وعدې مونږ ټول یُو ولاړ
دَ ورځې او شپې مونږه ټول یُو ولاړ
تیار دلته کښې مونږه ټول یُو ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښۀ محفوظه خاوره ده دا له دښمن
وطن دا وطن دا وطن دا وطن
تکړه دَجنت سَمه ښکاری مدام
خوشحاله تمام دلته کښې دی عوام
ښۀ ډك له سکون نه پوره هر مقام
هرسیمه لری خوشبوئی ښۀ تمام
منم محافظه دا خاوره دَ فن
وطن دا وطن دا وطن دا وطن
په کښې ځنګلونه، چنار په هرلور
حسین لری ګلی هر ښار په هرلور
اعلا لری هریو ګفتار په هر لور
اعلا وطنونو کښې دار په هرلور
جوړ شوي تمام له ګلونو ګلشن
وطن دا وطن دا وطن دا وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــه دې خــاوره دلتـــه کــوی ثـوك چې نــاز
لـــری مهـــارت حـــوصـلـــــه سَـم دَ بــاز
اُوچـــت بــــه لـــری ســـوچ او فـــکـــر آواز
اغيـار بـه تـرې بـچ نـۀ کـړی بيا خپل جهاز
پـــه ســرچــې تـړی کـلـــه دلتـــه کـفـن
وطـــــن دا وطـــــن دا وطـــــن
وطــن پـــه کـبنـــې دلتـــه آبــاد اوليــاء
فـــکـــر ســـوچ ســـره دی آزاد عـــلـــمـــاء
مســـکــن پـــه دُنيــا کـبنــې دَ هــريــو دانــا
آبـــــاد دې وی دا دَ احـــمـــد ده دُعــــا
زرخيـــره لـــری پـــوره تـهــولـــــه لَــمـــن
وطـــــن دا وطـــــن دا وطـــــن

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**